افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| اجتماعی | Social |
| --- | --- |

دافغانستان دازادی سازمان

۳۰ جنوری ۲۰۱۴

# دښځو حقوق یا وینزیتوب

پښتانه وايي چې ښځه دکور دي يادګور بيروني کارونه ټول دسړو پرغاړه وي اوداخلي کارونه ټول دښځو مسؤوليت دي اواسلام هم وايي چې الرجال قوامون على النساء (سړي په ښځو واکمنان دي ) موضوع ډيره اوږده دي خو زه يي په ډيره لنډه توګه راخلاصه کوم په افغاني اواسلامي ټولنو کي ښځه يو جنس دی ځکه چې جنس (کالا) دعقد راکړي ورکړي په پایله کې رامنځ ته کيږي يو شتمن چې يوازي سرمايه لري ماشين الات اخلي او کارخانه جوړه وي اودکارخاني دفعالولو له پاره کارګران ګماري چې جنس توليد کړي اوجنس بيا بازارته عرضه کوي اوهغه پيسي چې په ماشين الاتو،دځای په کرايه ،دکارګرانو مزد مصرف شوي دي دکارګرانو داضافي ارزش څخه يي اوباسي اومصارف اوګټه پوره کوي په افغاني ټولنه کي چې سړی مشترک ژوند جوړه وي نو واده به کوي اوواده کونه يو خاص دود لري چې ډير وربانديي نه غږيږم يوازي دواده په کولو کي دجينی کورنی دهلک له کورنی څخه ولور، سروزرو غاړه، لښتی، چارګل ، وريژي غواړي او.........حتا ترشين چای اوتورچای غواړي - په کابل ښارکي خبره لره جدادی دلته دمهرپه نوم ډيري پيسي اخلي اوبرسيره په هوټل کي وادونه . دجينی له پاره وسايل هغه څه دي چې دواده کړي ملاماتوي په شهري فرهنګ کي دمهر په نوم ډير څه اخلي اوکليو کي دولور په نوم ډير څه اخلي دولور، مهر اودښځي نفقه دهلک له خوا جينی اوکورنی ته ورکول کيږي اوپه مقابل کي دجينی له خوا هلک ته سيکس، کورني خدمات، اودميره ته خدمات بايد اماده کړي کومه يوه نيمه جينی چې تعليم اوتحصيل لري اوکور ته پيسي راوړي بيا ميره وربانديي ډير واک نه چليږي پښتانه دښځو ګټو ته دخره ښټه وايي وايي چې (دښځي ګټه دخره ښټه دی) او دا واقعيت دی څوک تري سترګي نشي پټولی ما داسي ښځي ليدلی چې خپل شخصی کور لري چې دپلاراويا په شکل داشکالو ورته پاتي شوی وي اوبيا ميره په هغه کور کي ورسره اوسيږي اوکور يي دښځي په نوم وي نو خپل ميره يي له کوره ايستلی دی اوکومي ښځي چې دندي لري دکور مصارفو کي ونډه اخلي هغه مطلقا ازادي لري ما ډير سرسخته پښتانه ليدلي چې لورګاني معاش ورته راوړي هيڅ ورته نه وايي يوځل په کمپ کي دانجونو يوه ابتداييه ډير په مشکل جوړه شوه چې ملايانو او ملکانو يي سخت مخالفت کوه دمکتب مؤسيسينو ملايان په کي معلمان کړل او د موقتي اداري جوړيدو وروسته ټولټاکني کيدي چې دښځو په رايه اچونه ځايو نو کي هماغه دمکتب انجونيو دندي درلودي کله چې معاش يي پلارونو ته ورکړ نو ملکانو اوملايانو وويل چې ابتداييه دي په متوسطه بدله شي موږ په حقيقت کي نه اسلام ته معتقد يو اونه ډيموکراسي ته اونه خپلو اناناتو ته نو پايله داشوه چې ميره ښځي ته څه ورکوي اوپه مقابل کي څه اخلي

لوستونکو له تاسو یو څو پوښتني کوم تاسو ښکلي جینۍ لیدلی چې دغریب هلک سره یې واده کړی وي ؟ اوتاسو داسي شتمن لیدلی چې دبدرنګی سره یې واده کړی وي ؟ ولی ویل کیږي چې زیبای برای دخترها ؟ وکار برای مردها ؟ ښځي ولي ځان ښکلی کوي ؟ په فیشن باندي ولی پیسي ورکوي ؟ دوی تنګ لباسونه دڅه له پاره کوي ؟ چې دبدن هرغړی په کې ښکاري ؟ داځکه چې کله یو شتمن دفابریکي اجناس خرڅوي نو اړین دي چې مارکیټنګ وکړي نو جینۍ هم دځان له پاره مارکیټنګ کوي چې کوم یو څوک په خپله لومه کې راګیر کړي ما داسي شتمن لیدلی چې دومره بد رنګ اوبد قواره چې په لیدو به کانګی درتلی خو څلور و ښکلو انجونو سره یې واده کړی وو دلته خبره ټوله په اقتصاد کي مطرح دي ښځه غواړي چې ښه ژوند ولري پیسي ولري اوسړی غواړی چې ښکلي ښځه ولري نو دغریب اوبد رنګه ژوند تباه دی نوخدای ته دې فریادونه پیل کړي بله چاره نه لري نوددغو خبرو په پایله کې اوس تاسو ووایاست چې دښځو له پاره دغه کړني دازادی په مانادی اوکه مریتوب ؟

راځم اساسی اوطبیعی موضوع ته کله چې انسان وږی شي دمړښت له پاره اړین دي چې ډوډۍ وخوري په کیفیت یې نه غږیږیم دغه لوږه اوتنده په نرینه اوښځینه دواړو کې دي دواړه وږي کیږي ډوډي اواوبه خوري اوڅښي توپیر په کې نشته دی کله چې دوی ته جنسي غریزه پیداکیږي اودغه جنسي غریزه دواړوته پیداکیږي توپیر په کې نشته دی اویو طبیعي کاردي باید ورته پیداشي نودغه جنسي تمایل هم باید مرفوع شي نو چې کله مرفوع کیږي نو ښځه له میړه څخه ولور اومهر بیا دڅه له پاره اخلي ؟ په ځینو مواردو کې دجینۍ کورنۍ مصارف دهلک په کورنۍ باندي ولي وي؟ په هلک باندي په هوټلونو کې وادونه ولي وي ؟ یوه باشخصیته جینۍ دیو احمق اوبې وقوف شتمن سره واده ولي کوي ؟ چې ذهني هیڅ توافق سره نه لري داځکه چې ښځي دخپلو دحقوقو داخستلو په نوم ځانونو څخه وینځي جوړه وي یوازي دومره توپیر دی چې په قبیلوي ټولنه کې ښځه دکورنۍ وینځه دی اوپه شاري ټولنه کې ښځه دکورنۍ له وینځیتوب څخه راوباسی دشتمن وینځه وي چې په کابل کې همدغه فرهنګ همدااوس ادامه لري

تاسو چې کابل کې یو څو لنځکي په پارلمان او دولتي ادارو کې ګوری دا یوازي او یوازي ښځه دکورنی له بردګی څخه راوباسي دشتمن بردګی په طرف یې بوځي اوبس. اواسلام یې ښه وسیله کړی دي په داسي حال کې چې ټه اسلام کې ښځه باید په حجاب کې وي قران صریح ایات دی چې «وقرن فی بیوتکن ولا تبرجن تبرجالجاهلیت الاولی» دوی داسلام په نوم ځانونه غولوی اوځانونه خوشالوي خو انسانیت بیا بل ډول دي هلته دنارینه اوښځینه توپیر نشته ،هلته ښځه په اعلانونو کې نه کارول کیږي هلته له ښځي څخه ناوړه ګټه نه کیږي په یو اساسي کچه باندي ژوند تیره وي هلته اساسي موضوع د اقتصادی منابعو دي چې اقتصادی منابع یوازی دښه باسکونه ژوند له پاره کارول کیږي نه دیو څو محدودو انسانانو له پاره